# د حج

## د میاشتې وړومبۍ 10 عظیمې ورځې

01-August-2019



هفته واره د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د حج د میاشتې وړومبۍ 10 عظیمې ورځې

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چه کله جُمات ته داخل شئ، چه یاد مو وي نو د اِعتِکاف نِیَّت کوئ، تر څو چه جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کیږي. یاد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کیدو یا پیشمنې او روژه ماتې کولو، تر دې چه د آبِ زَم زَم یا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِیَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي. د اِعتِکاف نِیَّت هُم صرف خوراك څښاك یا اُوده کیدو د پاره کول نه دي پکار بلکه چه مقصد د **الله** تعالٰی رِضا وي. "**فتاوٰی شامی**" کښې دي: که څوك جُمات کښې خوراك څښاك یا اُوده کیدل غواړي نو د اِعتِکاف نِیَّت دِ اوکړي، لږ ساعت دِ ذِکْرُ الله اوکړي بیا چه څه غواړي کوي دِ (یعني بیا که غواړي نو خوراك څښاك کولے شي او اُوده کیدے شي)

## د دُرُود شریف فضیلت

د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: د قیامت په ورځ به د **الله** تعالٰی د عرش نه سِوا یو سورے هُم نه وي، درې قِسمه خلق به د **الله** پاك د عرش په سوري کښې وي: ﴿۱﴾ هغه کس څوك چه زما د اُمَّتي پریشاني لرې کړي ﴿۲﴾ زما سُنَّت ژوندي کولو والا او ﴿۳﴾ په ما باندې کثرت سره دُرُود شریف لوستلو والا.

(اَلبُدورُ السّافرۃ لِلسُّیُوطی، ص۱۳۱، حدیث:۳٦٦)

پڑھتا رہوں کثرت سے دُرُود اُن پہ سَدا مَیں
اور ذِکْر کا بھی شوق پئے غوث و رضا دے

(وسائلِ بخشش مُرَمَّم، ص۱۱۴)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**مُحترمو اسلامي وروڼو!** ثواب حاصلولو د پاره د بیان اوریدو نه **مخکښې** ښه ښه نِيَّتونه کوو: **فرمَانِ مُصطَفٰے** صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: **"نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ خَيْرٌ مِّنْ عَمَلِهٖ"** د مُسلمان نِيَّت د هغه د عمل نه بهتر دے. (معجم کبیر، سهل بن سعد الساعدی...الخ، ۱۸۵/۶، حدیث ۵۹۴۲)

مَدَني ګل: بیان کښې چه څومره ښه نِيَّتونه زیات وي هغه همره به ثواب هُم زیات کیږي.

## د بیان اوریدو آداب

نظر به ښکته ساتم او ښه په غور به بیان اورم. ❁ چه څومره کیدے شو د ډېره وهلو په ځائے به د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِيَّت دو زانو [یعني د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې] کښینم ❁ د بل د پاره ځائے فراخه کولو د پاره به ضرورتاً د خپل ځائے نه خوزیږم ❁ که د چا په دِیکه وغیره اولګیدم نو د بد بد کتلو، رټلو او بحث کولو په ځائے به صبر کووم. ❁ صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب، اُذْكُرُوا الله، تُوْبُوْا اِلَى الله وغیره چه اورم نو د ثواب ګټلو او د آواز لګوونکو د زړه ساتلو د پاره به په اوچت آواز باندې جواب ورکووم. ❁ د اِجتِماع نه پس به پخپله ورمخکښې کیږم او سَلام و مُصافَحه او اِنفرادي کوشش به کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو!** د نن هفته وارې د سُنّتو ډکې اجتماع د بیان موضوع ده ''**د حج د میاشتې وړومبۍ لس عظیمې ورځې**'' په دې بیان کښې به اِنْ شَآءَاللّٰه تعالیٰ د **ذُوالْحِجَّةُالْحَرَام** د میاشتې فضائل، د قُربانۍ فضائل او مسائل، د غوښې طِبّي فائدے او د زیاتې خوړلو نُقصانات هُم بیانیږي، د**ذُوالْحِجَّةِالْحرام** وړومبو لسو ورځو کښې د عبادت کولو باره کښې به هُم اورو،ضِمناً به د **ذِکْرُالله** فضائل او د نفلي روژو فضائل هُم اورو او په آخره کښې به د شیخِ عرب و عَجَم خلیفۂ اعلیٰ حضرت سیِّدي قُطبِ مدینه حضرت علّامه مَولانا ضیاءالدّین احمد مَدَنی قادری رَحْمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د سِیرت یو څو جهلیکیانې هُم بیانیږي. کاش! چه مونږ ته ښو ښو نِیَّتونو سره د پوره بیان اوریدو سعادت رانصیب شي. آمِین

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## څه خیز په روژه نیولو آماده کړې؟

اُمُّ المُؤمِنِین حضرتِ سَیِّدَتُنا عائشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ عَنْہَا نه روایت دے چه یو ځلمے چه هغه به حدیثونه اوریدل، چه کله د **ذِیْ الْحِجَّه** میاشت ښکاره شوه نو هغه روژه اونیوله، چه خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د دې خبر اوشو نو خوږ مهربان آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه را اوغوښتلو او تپوس ئې ترینه اوکړو: ته څه خیز په روژه نیولو آماده کړې؟ هغه عرض اوکړو: **یارَسُولَ الله** (صَلَّی اللہُ عَلَیْكَ وَسَلَّم)! زما مور او پلار دِ په تاسو قُربان شي، دا د **حج** او **قُربانۍ** ورځې دي، شاید چه **الله** پاك ما هُم د هغوئې په دُعاګانو کښې شامِل کړي. حُضُورِ انور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اُوفرمائیل: ستا د هرې ورځې د روژے ثواب د سلو (100) **غلامانو آزادولو** برابر، د سلو (100) **اوښانو د قربانولو** او د **الله** تعالیٰ په لار کښې د ورکړو سلو (100) **اسونو د ثواب** برابر دے. چه کله د اتم **ذِیْ الْحِجَّه** ورځ وي نو تا ته به د هغه ورځې د

روژے ثواب د دوه زره (2000) غلامانو ازادولو، دوه زره (2000) اوښانو قربانولو او د **اللّٰه** تعالٰی په لار کښې د سوَرلۍ د پاره ورکړو دوه زره (2000) اسونو برابر حاصلیږي او چه کله د نهم [ذِی الْحِجَّه] ورځ وي نو ستا د هغه ورځې د روژے ثواب به د زرو (1000) غلامانو ازادولو، د زرو (1000) اوښانو د قربانۍ او د **اللّٰه** تعالٰی په لار کښې د سوَرلۍ د پاره ورکړو زرو (1000) اسونو د ثواب برابر وي. (اللآلیء المصنوعة للسیوطی، کتاب الصیام، ۲/۹۱ملتقطاً)

(البته "حج کوونکي باندې کوم چه عرفات کښې دے، د هغه د پاره د عرفے (یعنی د 9 ذُوالْحِجَّةِ الْحرام) روژه نیول مکروه دي. ـ"(بهارِ شریعت، حصه: پنجم، ۱/۱۰۱۰))

روزہ داروں کے واسطے وَاللہ　　مغفرت کی نوید ہوتی ہے

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۷۰۷)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب!　　صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ذُوالْحِجَّه شریف په وړومبو لسو ورځو کښې څه کول پکار دي؟

سُبْحٰنَ اللّٰهِ! تاسو واوریده! د ذِی الْحِجَّه شریف د میاشتې وړومبۍ لس ورځې څومره بَرَکتونو او رحمتونو والا دي، چه په هغے کښې بندګانو باندې د **ربِّ کریم** رحمتونه راوریږي.

څوك خوش نصیبه چه په دې ورځو کښې د رضائے اِلٰهي د پاره د وړومبي ذِی الْحِجَّه نه واخله نهم ذِی الْحِجَّه پورې روژے نیولو کښې کامیاب شي نو **اللّٰه** تعالٰی هغه ته د **زرګاؤ غلامانو ازادولو، د زرګاؤ اوښانو قربانولو او د اللّٰه** په لار کښې د **زرګاؤ اسونو ورکولو** همره **اجر و ثواب** ورکوي.

اے عاشقانِ رَسُول! سوچ اوکړئ! په دغه مبارکو ورځو کښې د يوے يوے روژے نيولو څومره ثواب ورکولے کيږي نو کوم خوش نصيبه مسلمان چه دې ورځو کښې مختلف عبادتونه مَثَلًا د ورځې روژے نيسي او شپے په ويښه عبادتونو کښې تيروي نو دا اندازه څوك لګولے شي چه **الله** تعالیٰ به په دې عبادتونو کولو هغوئي ته څومره ثوابونه ورکوي. لِـهذا اے عاشقانِ رَسُول! دا لس ورځې هيڅ کله په غفلت کښې تيرول نه دي پکار، دا لس ورځې ځان عبادتونو کښې مشغول ساتل پکار دي، دې لسو ورځو کښې د لسم **ذِیالْحِجَّه** نه علاوه باقي ورځو کښې روژے نيول پکار دي، ياد ساتئ! لسم **ذُوالْحِجَّةِالْحرام** باندې روژه نيول **مکروهِ تَحريمي** او ګناه ده. (بهارشريعت،۱/۹٦۷ملخّصًا،دُرِّمُختارو ردالمحتار،۳/۳۹۱ ملخّصًا)

اے عاشقانِ رَسُول! **اَلْحَمْدُلِلّٰه** د نفلي روژو هُم بيشميره ديني او دُنيوي فائدے دي او ثواب ئې دومره زيات دے چه د بنده زړه غواړي چه بس ټول کال مې روژے نيولے. مَثَلًا د ايمان حفاظت، د جَهنَّم نه نجات، جَنَّت ګټل او د بيشميره بيمارو نه د حفاظت ذريعه ده او د ټولو نه غټه فائده دا ده چه روژه دار نه **الله** پاك راضي کيږي، لِـهذا مونږ ته کوشش کول پکار دي چه هره مياشت څه نه څه نفلي روژے هُم نيسو، بِالخصوص د کُل شريف د ورځې او د زيارت د ورځې او د هرې مياشتې د **اَيَّامِ بِيض** (يعني د هرې اسلامي مياشتې د 13،14،15 تاريخ) روژے نيول سُنَّتِ مبارکه هُم دي. چنانچه

اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا نه رِوايت دے چه د نبيانو سَروَر، د رسولانو افسر صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د کُل او زيارت روژه نيوله. (ترمذی،ابواب الصوم،باب ماجاء فی صوم يوم الاثنين و الخميس،۲/۱۸٦،حديث:۷۴۵ملخصاً)

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نه رِوايت دے چه د **الله** تعالیٰ خوږ نبي،

مکّی مَدَنی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په اَیّامِ بِیض کښې بغیر د روژے نه نه وو، نه په سفر کښې او نه په حَضَر (یعني قیام) کښې. (نسائي،کتاب الصیام،باب صوم النبی...إلخ،ص۳۸۶،حدیث:۲۳۴۲) چه کله په میاشت کښې درې روژے نیسئ نو په 13، 14، 15 ئې نیسئ. (ترمذی،ابواب الصوم،باب ماجاء في صوم ثلاثة ایام من کل شهر...الخ،۲/۱۹۳،حدیث:۷۶۱)

اَمیرِ اَهلِسُنَّت، حضرتِ علّامه مولانا اَبُو بِلال **محمد اِلیاس عطّار قادِري** دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ مَدَني انعاماتو کښې د نفلي عباداتو شوق ورکولو ترغیب هُم ورکړے دے، چنانچه مَدَني انعام نمبر 58 دے: آیا تاسو دے هفته کښې د ګُل شریف د ورځې (یا د پاتې کیدو په صورت کښې په بله یوه ورځ) روژه اونیوله؟ اَلْحَمْدُ لِلّٰه ډیر عاشقانِ رَسُول د ګُل شریف د روژے اهتمام کوي.

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ذِی الْحِجَّه **دې لسو ورځو** کښې کثرت سره تِلاوت کول پکار دي، **دې لسو ورځو** کښې ډیر ډیر ذِکْرُ الله کول او ډیر ډیر دُرُود وئیل پکار دي، **دې لسو ورځو** کښې ډیر ډیر نفلي عبادتونه کول پکار دي، د **دې لسو ورځو** په شپو کښې هُم د خپل **ربِّ کریم** ډیر ډیر عبادتونه کول پکار دي، **دې لسو ورځو** کښې هُم د ګناهونو نه ځان ساتل پکار دي، **دې لسو ورځو** کښې د **الله** تعالٰی په لار کښې ډیر ډیر مال خرچ کول پکار دي، **دې لسو ورځو** کښې بِالخصوص هفته واره اِجتِماع کښې شرکت کول پکار دي، **دې لسو ورځو** کښې جُماتونه ابادول پکار دي، **دې لسو ورځو** کښې ډیر ډیر مَدَني کارونه کول پکار دي، **دې لسو ورځو** کښې یو یو کور ته ورتلل او د خپل ګران تحریك دعوتِ اسلامي د پاره د قُربانۍ د څاروو د څرمنو د پاره رابطے کول پکار دي، **دې لسو ورځو** کښې پخپله هُم **مَدَني قَافِلو** کښې سفر او نور خلق هُم ځان

سره مَدَني قَافِلو کښې په سفر بوتلل پکار دي. اللّٰه پاك دِ مونږ ته د ذِیْ الْحِجَّه د میاشتې دې لسو ورځو کښې ډیر ډیر بَرَکتونه را کړي. اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

عبادت میں گزرے مری زندگانی کرم ہو کرم یا خدا یا الٰہی

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۱۰۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! ذُوالْحِجَّةِ الْحرام د اسلامي کال ځغه دولسمه میاشت ده کومه چه د حُرمت والؤ میاشتو کښې شامله ده، حُرمت والا څلور میاشتې دي ﴿۱﴾ ذُوالْقَعْدَةِ الْحَرَام ﴿۲﴾ ذُوالْحِجَّةِ الْحَرَام ﴿۳﴾ مُحَرَّمُ الْحَرَام او ﴿٤﴾ رَجَبُ الْمُرَجَّب۔ په دې کښې افضل ذُوالْحِجَّةِ الْحَرَام ده. بِالخصوص د دې د ورومبو لسو ورځو او شپو فضائل خو ډیر زیات دي. قرآن کریم هُم د دې میاشتې د ورومبو لسو ورځو قَسَم یاد کړے دے، چنانچه

پاره 30 سُورةُالْفَجْر ، آیت نمبر 1 او 2 کښې اللّٰه پاك ارشاد فرمائي:

وَ الْفَجْرِ ۙ﴿۱﴾ وَ لَیَالٍ عَشْرٍ ۙ﴿۲﴾

(پاره۳۰، الفجر :۱،۲)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالایمان: د ځغه سحر قَسَم او د لسو شپو.

حضرتِ سَیِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوایت دے چه د دې لسو شپو نه مُراد د ذِیْ الْحِجَّه ورومبۍ لس شپے دي ځکه چه دا زمانه د حج په اعمالو کښې د مشغولیدو زمانه ده. (خازن، الفجر، تحت الآیة:۱،۴/۴۰۱)

اَلْحَمْدُلِلّٰه اَحادِیثِ مبارکه کښې هُم مختلفو مقاماتو کښې د دې لسو ورځو او شپو فضائل بیان شوي دي. راځۍ چه ترغیب د پاره پینځه فرامِینِ مُصطَفٰی واورو، چنانچه

# د ذُوالْحِجَّة د ورومبو لسو ورځو فضائلو باندې مشتمل 5 روايات

﴿۱﴾ خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د **الله** تعالیٰ په نزد يوه ورځ هُم د عشرهٔ ذِیْ الْحِجَّه نه زياته نه عظيمه ده او نه د دې ورځو نه زيات د يوې ورځې نيك عمل هغه ته مَحْبُوب دے، لِـهذا دې ورځو کښې د تَہلِيل (يعني لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ)، تکبِير (يعني اَللّٰهُ اَکْبَر) او تَحْمِيد (يعني اَلْحَمْدُ لِلّٰه) کثرت کوئ. (مسند احمد، مسند عبد الله بن عمر، ۲/۳۶۵، حديث: ۵۴۴۶)

﴿۲﴾ خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د **الله** پاك په نزد د عَشَرهٔ ذِیْ الْحِجَّه د ورځو نه افضل [يعني غوره] بله ورځ نشته. (ابن حبان، کتاب الحج، باب الوقوف بعرفة...الخ، ذكر رجاء العتق من النار...الخ، ۶/۶۲، حديث: ۳۸۴۲)

﴿۳﴾ زمونږه خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: کومو ورځو کښې چه د **الله** پاك عبادت کيږي، په هغے کښې يوه ورځ هُم د ذِیْ الْحِجَّه د لسو ورځو نه زياته خوښه نشته، په دې کښې (د لسم ذِیْ الْحِجَّه نه علاوه) د هرې ورځې روژه د يو کال د روژو او (د لسم ذِیْ الْحِجَّه سره) د هرې شپے قِيام د لَيْلَةُ الْقَدْر د قيام برابر دے. (ترمذی، کتاب الصوم، باب ما جاء فی العمل فی ايام العشر، ۲/۱۹۲، حديث: ۷۵۸)

﴿٤﴾ خوږ مکّي مَدَنـي آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د **الله** تعالیٰ په نزد د حج دې لسو ورځو نه افضل او خوښه يوه ورځ هُم نشته، لِـهذا دې ورځو کښې د سُبْحَانَ اللّٰهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ او اَللّٰهُ اَکْبَرُ کثرت کوئ. يو رِوايت کښې دي: دې ورځو کښې د سُبْحَانَ اللّٰهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ او ذِکْرُ اللّٰه کثرت کوئ. او دې کښې د يوے ورځې روژه د يو کال د روژو برابره ده او دې ورځو کښې عمل 700 همره زيات کړے شي. (شعب الايمان، باب فی الصيام، فصل تخصيص ايام العشر...الخ، ۳/۳۵۶، رقم: ۳۷۵۸)

﴿۵﴾ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: د حج په لسو ورځو کښې کړے عمل **الله** پاك ته باقي ورځو کښې کړي عمل نه زیات محبوب دے. صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو، **یَارَسُوْلَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا د **الله** په لار کښې جنګیدلو نه هُم؟ اِرشاد ئې اوفرمائیلو: آو! د **الله** په لار کښې جنګیدلو نه هُم، سِوا د هغه کس نه څوك چه خپل ځان و مال سره اوځي او دې دواړو کښې هیڅ هُم بیرته رانوړي. (بخاری، کتاب العیدین، باب فضل العمل... الخ، ۱/۳۳۳، حدیث: ۹۶۹)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ذِی الْحِجَّه دې لسو ورځو کښې چه څومره کیدے شي خپلو نیکو کښې د اِضافه کولو پوره کوشش کول پکار دي او خپله ژبه د فالتو خبرو نه ساتلو سره سره ډیر ډیر ذِکْرُ الله کول پکار دي ځکه چه د ذِکْرُ الله بیشمیره فضائل دي. راځئ چه د **الله** پاك د ذِکر یو څو فضائل واورو:

۞ دا کَلِمات **الله** پاك ته خوښ دي: **سُبْحَانَ اللهِ، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ، اَللهُ اَكْبَر** (ترمذی، کتاب الدعوات، باب ۶۰، رقم: ۳۴۷۳، ۵/۲۸۶)۔ ۞ دې کښې هره کَلِمه وئیلو سره جَنَّت کښې یو بوټے لګولے کیږي. (ابن ماجه، کتاب الادب، باب فضل التسبیح، رقم: ۳۸۰۷، ۴/۲۵۲) ۞ **سُبْحٰنَ الله** وئیلو سره 20 نیکۍ لیکلے کیږي او 20 ګناهونه وران [یعني معاف] کړے شي. (مستدرک، کتاب الدعاء والتکبیر الخ، باب فضیلة التسبیح، رقم: ۱۹۲۹، ۲/۱۹۲) ۞ **لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ** وئیلو سره شل نیکۍ لیکلے کیږي او 20 ګناهونه وران [یعني معاف] کړے شي. (اَیضاً) ۞ **اَللهُ اَكْبَر** وئیلو سره 20 نیکۍ لیکلے کیږي او 20 ګناهونه وران [یعني معاف] کړے شي. (اَیضاً) ۞ **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْن** وئیلو سره 30 نیکۍ لیکلے کیږي او 30 ګناهونه وران [یعني معاف] کړے شي. (اَیضاً) ۞ **لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ** د جَنَّت کُنجي ده. (مسند احمد، رقم: ۲۲۱۶۳، ۸/۲۵۷) **سُبْحَانَ الله** وئیل نیم مِیزان ډکوي. ۞

اَلْحَمْدُلِلّٰه وئیل پوره مِیزان ډکوي. ۞ لَآاِلٰهَ اِلَّا اللهُ د ټولو نه افضل ذِکر دے. (ابن ماجه، کتاب الادب، باب فضل الحامدين، رقم: ۳۸۰۰، ۴/۲۴۸) او اَلْحَمْدُلِلّٰهِ د ټولو نه افضله دُعا ده. (اَیضاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

اےعاشقانِ رسول! اوس چه مونږه د الله پاك د ذِکر دا فضائل واوریدل، د دې فضائلو نه مخکښې چه کوم اَحادِیثِ کریمه بیان شو د هغې نه دا معلومه شوه چه د ذِیْ الْحِجَّه ورومبۍ لس ورځې ډیرې عظیمې دي او ډیر فضیلت لري، د ذِیْ الْحِجَّه ورومبو لسو ورځو عمل الله تعالیٰ ته ډیر خوښ دے، د ذِیْ الْحِجَّه ورومبو لسو ورځو کښې (د ممنوعه ورځ نه علاوه) د هرې ورځې روژه د یو کال د روژو برابره او د دې د هرې شپے قِیام د لَیْلَةُ الْقَدْر د قیام برابر دے. د ذِیْ الْحِجَّه په ورومبو لسو ورځو کښې د عمل ثواب ووه سوه [700] همره زیات کړے شي، د ذِیْ الْحِجَّه په ورومبو لسو ورځو کښې کړے عمل د نورو ورځو د عمل په مقابله کښې الله تعالیٰ ته د هغه په لار کښې د جنګیدو نه هُم زیات خوښ دے. غرض دا چه د ذِیْ الْحِجَّه ورومبۍ لس ورځې ډیر فضائل و بَرَکات او خُصُوصیات لري. دا ورځې هر کال یوولس میاشتې پس د ذِیْ الْحِجَّه په مُقَدَّس میاشت کښې تشریف راوړي او ځان سره بَرَکتونه راوړي خو افسوس! د خلقو یو تعداد دا لس ورځې هُم د نورو ورځو په شان غفلتونو کښې تیروي، مَثَلًا اوزګار ځلمي دې لسو ورځو کښې خپل ټائم پاس کولو د پاره د ښاروو منډۍ ته سیل له ځي او هلته غټو غټو ښاروو سره خپلې سیلفیانې جوړوي. غرض دا چه دا ورځې عبادتونو کښې د تیرولو په ځائے د عامو ورځو په شان غفلت کښې تیروي او په دې وجه دا نادانه خلق مَعَاذَالله د فرضو لمونځونو او نورو بیشمیره نیکو نه محرومه پاتې شي، الله پاك دِ د مسلمانانو په حال

رَحم اوفرمائي، او د نیکو اعمالو توفیق دِ ورکړي.اٰمِین

عبادت میں لگتا نہیں دل ہمارا ہیں عصیاں میں بدمست ہم یاالٰہی

مجھے دے دے ایمان پر استقامت پئے سیدِ **مُحْتَشَم** یاالٰہی

(وسائلِ بخشش مُرَمَّم، ص۱۰۹۔۱۱۰)

[**د شعر مفهوم**: یا الله عبادت کښې مې زړه نه لګي او په ګناهونو کښې اخته یم، یا الله ما ته د سَیّدِ انبیا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خاطر په اِیمان اِستِقامت را کړې.]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د **ذُوالْحِجَّةِالْحرام** د میاشتې بَرَکتونه جاري دي، د دې میاشتې راتلو سره سمدستي د سُنَّتِ ابراهیمي یادونه تازه شي، هر کال لکونه مسلمانان په دې مُقَدَّسه میاشت کښې د **الله** پاك د حُکم مطابق سُنَّتِ ابراهیمي او سُنَّتِ مُصطَفیٰ ادا کوي لِـهذا چه کوم مسلمان د قربانۍ کولو وس لري، هغه ته پکار دي چه د **الله** تعالیٰ د رضا حاصلولو د پاره او د سُنَّتِ ابراهیمي د ادائیګۍ په نِیَّت دې میاشت کښې په حلالو پیسو د قُربانۍ فریضه ادا کړي، ځکه چه دا ډیره د سعادت خبره ده، چنانچه

پاره 30 **سُوْرَۂ کوثر** آیت نمبر2 کښې **الله** پاك اِرشاد فرمائي:

**فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ۝۲** (پ۳۰،الکوثر،۲)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو ته د خپل رب د پاره لـمونځ اوکړه او قُرباني اوکړه.

**مشهور مُفَسِّر** قرآن اِمام فخرُ الدِّین رازي رَحۡمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیۡہ د دې آیتِ مبارکه نه لاندې فرمائي: حَنَفي عُلَمائے کِرامو د دې آیت نه دا اِستِدلال کړے دے چه **قرباني واجِب ده.**

(تفسیر کبیر،۱۱/۳۱۸)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** ډیرو احادیثو کښې د قُربانۍ فضائل او مسائل راغلي دي. راځئ چه د قُربانۍ په فضائلو مُشتَمِل څلور فرامِینِ مُصطَفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم واورو: چنانچه

خوږ مَدَني آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ﴿۱﴾ قُرباني کوونکي ته د قُربانۍ د څاروي د هر ویښته په بدله کښې یوه نیکي حاصلیږي (ترمِذِی،ج۳ص۱۶۲حدیث۱۴۹۸) خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: ﴿۲﴾ چا چه د زړه په خوشحالۍ ثواب غوښتلو د پاره قُرباني اوکړه، نو هغه به د جَهنَّم د اور نه حِجاب (یعني پرده جوړه) شي (اَلْمُعْجَمُ الْکَبِیْر ج۳ص۸۴حدیث۲۷۳۶) خوږ مکِّی مَدَنی آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خپلې ګرانې لُور ته اوفرمائیل: ﴿۳﴾ اے فاطِمه! خپلې قُربانۍ سره موجوده اوسه ځکه چه د دې د وِینې ورومبے څاڅکے توئ شي [نو] ستا ټول ګناهونه به معاف کړے شي. (السنن الکبرٰی لِلبیهقی ج۹، ص۴۷۶، حدیث۱۹۱۶۱) ﴿۴﴾ سرکارِ نامدار شَهَنشاهِ اَبرار صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: انسان د بَقَر عِید [یعني د غټ اختر] په روځ یوه داسې نیکي نه کوي کومه چه **اللّٰه** تعالٰی ته د وینې بَهیوَلو نه زیاته خوښه وي، دا قُرباني به قیامت کښې خپلو ښکرو، ویښتو او خنګرو سره راځي او د قُربانۍ وینه زمکه باندې غورزیدو نه مخکښې د **اللّٰه** تعالٰی په دربار کښې قبوله شي. لِهذا د زړه په خوشحالۍ قُرباني کوئ. (ترمِذِی،ج۳ص۱۶۲حدیث۱۴۹۸)

حضرت علّامه شَیخ عَبدُالحق مُحَدِّث دِهلوي رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: قرباني به د خپل کوونکي د نیکو په تَله کښې کیښودے شي چه په هغے به د نیکو تله درَنه شي. (اَشِعَّةُ اللّمعات، ج۱، ص۶۵۴) حضرتِ سَیِّدُنا عَلّامه علي قاري رَحْمَۃُ اللہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: بیا به د هغه د پاره سوَرلۍ جوړه شي چه د هغے په ذریعه به دا کس په آسانۍ **پُلِ صِراط** باندې تیر شي او د

هغه (څاروي) هر اندام به د مالِك (يعني د قرباني كوونكي) د هر اندام (د پاره د جَهنَّم نه د آزادئ) فِديه جوړيږي. (مِرقَاةُ الْمَفَاتِيح ج٣ ص٥٧٤ تحت الحديث ٤٧٠، (مِراٰة ج٢ ص٣٧٥)

دے نزع و قبر و حشر میں ہر جا امان، اور دوزخ کی آگ سے بچا یا ربّ مصطفےٰ

(وسائلِ بخشش مُرَمَّم، ص۱۳۲)

**د شعر مفهوم:** اے د خوږ مُصطَفىٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **ربّ** تعالیٰ! ما ته په ځنکدن او **قَبْر** و حشر هر ځائے کښې امان راکړې، او د دوزخ د اور نه مې اوساتې.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

**اےعاشقانِ رسول!** بيان شوي اَحادِيثِ مُبارکه نه معلومه شوه چه د غټ اختر د قُربانئ فريضه پوره کوونکو خوش نصيبو ته **الله** تعالیٰ د هغوئي د قربانئ د څاروي **د هر وينسته په بدله کښې يوه يوه نيکي** ورکوي، قُرباني کوونکي ته **د دوزخ د اور نه نجات** حاصليږي، د څاروي د وينے وړومبي څاڅکي زمکې ته رسيدو نه مخکښې مخکښې د هغوئي **ګناهونه معاف** کړے شي، په ورځ د قيامت به قُرباني **د نيکو په تله** کښې کيښودے شي نو هغه به درنه شي او قرباني کوونکے به په خپل څاروي سور شي او **په آسانئ** به پُل صِراط باندې تير شي. لِهذا کوم مسلمان (نارينه، زنانه، بالِغ، مُقيم) چه مالِكِ نِصاب وي (يعني هغه سره دوه پنځوس نيمې تولے سپين زر يا د هغه همره مالِيَت رقم يا د هغه همره مالِيَت د تجارت مال يا د هغه همره مالِيَت د حاجتِ اصليه نه علاوه سامان وي او په هغه باندې د **الله** تعالیٰ يا د هغه د بندګانو دومره قرضه نه وي چه هغه ادا کولو نه پس ذِکر کړے شوے نِصاب باقي پاتې نه شي) نو داسې کس باندې شرعاً قرباني واجِب ده. (ابلق گھوڑے

سوار ۱ص6) لِـهذا هغه ته پکار دي چه د زړه په خوشحالئ قُرباني اوکړي او ورسره ورسره د قُربانۍ مسائل هُم د زده کولو کوشش اوکړي ځکه چه په چا باندې د شرعي اُصولو مطابق قرباني واجب وي، د هغه د پاره د قربانۍ ضرروي مَسائل زده کول هُم لازمي دي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه د عاشقانِ رَسُول مَدَني تحريك دعوتِ اسلامي زمونږه د روزانه ډيرو معاملاتو کښې زمونږه رهنمائي کوي، هُم دغسې **د قرباني کوونکو د آسانۍ د پاره د "آن لائن قرباني کورس"** اهتمام هُم کوي، دا کورس صرف د 7 ورځو وي او په دې کښې هره ورځ صرف د **نيمې ګينټے** کلاس وي، بِالخصوص هُغه عاشقانِ رَسُول چه دا کال به د **قربانۍ** کولو سعادت حاصلوي، هغوئي ته مشوره ده چه دا **قرباني کورس** ضرور د کولو کوشش اوکړي چه زمونږه **قرباني د شريعت مطابق** صحيح طريقه باندې اوشي.

راځئ چه د قربانۍ ضروري مسائل واورو:

## د قُربانۍ ضروري مسائل

﴿۱﴾ بعضې خلق د پوره کور له طرفه صرف د يو چيلي قُرباني کوي حالانکه بعضې وخت د کور ډير کسان صاحِبِ نصاب وي او په دې وجه په هغوئي ټولو قُرباني واجب وي، د هغوئى ټولو له طرفه جُدا جُدا قُرباني کول پکار وي. يو چيلے چه د ټولو له طرفه [قربان] کړے شو د هيڅ چا واجب هم ادا نه شو ځکه چه چيلي کښې يوے نه زياتې حصّے نه شي کيدے، صرف د يو طے شُده کس له طرفه چيلے قربانيدے شي.

﴿۲﴾ غټ څاروي غوا، غوئي، سخوندر، ميښه، او اوښ وغيره کښې ووه 7 قُربانۍ کيدے شي. (فتاویٰ هِندية،۵/۳۰۴ ملخّصاً)

﴿۳﴾ د نابالِغه له طرفه اګر چه واجب نه وي خو کول ئې بهتر دي (او هغه نه اجازت اخستل هُم ضروري نه دي). د بالِغ اولاد يا زَوجه له طرفه که قُرباني کول غواړي نو هغوئي نه دِ اجازت اوغواړي که هغوئي نه اجازت اغستلو نه بغير ئې اوکړه نو د هغوئي له طرفه به واجب نه ادا کيږي. (بهارِ شريعت،۳/۳۳۴) اجازت په دوه شان وي: (۱) **صَراحَةً** مَثَلًا په هغوئي کښې څوك په واضحه طور اووائي چه زما له طرفه قُرباني اوکړه (۲) **دَلالَةً** مَثَلًا دې د خپلې زَوجه يا اولاد له طرفه قُرباني کوي او هغوئي ته د دې عِلم دے او هغوئي راضي دي. (ابلق گھوڑے سوار، ص۹)

﴿٤﴾ د قُربانۍ په وخت کښې صرف قُرباني کول لازِم دي بل يو څيز د دې قائم مقام نه شي کيدے مَثَلًا که د قُربانۍ په ځائے چيلے يا د هغے قيمت صَدَقه (يعني خيرات) کړے شي نو دا ناکافي دي. (فتاویٰ ہندية،۵/۲۹۳،بهارِ شريعت،۳/۳۳۵)

﴿۵﴾ د قُربانۍ د ځاروي بے عيبه کيدل ضروري دي که لږ شان عيب وي (مَثَلًا که غوږ کښې څه ځائے څيرلے شوے وي يا ئې غوږ کښې سُورے وي) نو قُرباني به مکروه وي او که زيات عيب وي نو قُرباني به نه کيږي. (بهارشريعت ج۳.ص۳٤۰)

د قربانۍ مُتَعَلِّق نور مسائل زده کولو د پاره د اميرِ اَهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه رِساله **"ابلق گھوڑے سوار"** او **"بہارِ شریعت"**، **جلد سوم** حِصَّه 15 صفحه 327 نه 353 پورې اولوَلئ.

**جَنَّتي کډ** څنګه وو؟ د جَنَّتي کډ غوښه څه شوه؟ کعبه شريفه کښې اور کله لګيدلے وو او څنګه لګيدلے وو؟، د حضرتِ سَيِّدُنا اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام لس **مخصوص** فضائل څه وو؟ د دې ټولو خبرو معلومات حاصلولو د پاره رِساله "**بیٹا ہو تو ایسا!**" لوستل ډير فائده مند دي. [اَلْحَمْدُ

لِلّٰه د دې دواړو رسالو پښتو ترجمه هُم شوې ده "**په برګ اس سور کس**" او "**ځوئ داسې وي**" دا دواړه رسالے تاسو د دعوتِ اسلامي ویب سائټ www.dawateislami.net باندې لوستلے شئ.]

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد**

## دولسو مَدَني کارونو کښې یو مَدَني کار "مَدَني دَوره"

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د قرباني شرعي اَحکام زده کولو او قُرباني د ضائع کیدو نه د بچ کولو سوچ حاصلولو د پاره د عاشقانِ رَسُول مَدَني تحریك دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول سره هر وخت خپل تَعَلُّق مضبوط ساتئ او د ذیلي حلقے دولس مدني کارونه ښه ډیر ډیر کوئ. دولسو مَدَني کارونو کښې یو مَدَني کار "**مَدَني دَوره**" هُم ده، چه د دې په ذریعه کور په کور، دُکان په دُکان خلقو ته د نیکئ دعوت ورکولے کیږي. د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره سفر کوونکو **مَدَني قَافِلو** په شیډول کښې خو هره ورځ د مازدیګر د لمانځه نه پس "**مَدَني دوره**" کیږي، د دې نه علاوه علاقو او حَلقو کښې هفته وار دا مَدَني کار تنظیمي طور طے دے. ډیر خوش نصیبه عاشقانِ رَسُول هفته کښې د یو ځل نه زیات هُم د "**مَدَني دَورے**" سعادت حاصلوي، "**مَدَني دوره**" ډیر زیات اَهم مَدَني کار دے، ځکه چه د دې مَدَني کار په ذریعه **جُماتونه** آبادیږي، "**مَدَني دوره**" د نیکئ د دعوت فضائل حاصلولو بهترینه ذریعه ده، د "**مَدَني دورے**" په ذریعه د عِلمِ دین زده کولو موقع حاصلیږي. د "**مَدَني دورے**" په بَرَکت د **نفلي اِعتِکاف** سعادت حاصلیږي، "**مَدَني دوره**" د **مَدَني تربِیَّت** بهترینه ذریعه ده، د "**مَدَني دورے**" په بَرَکت د "**سلام**" سُنَّت هُم عام کیږي. "**مَدَني دوره**" کښې د **نفس مخالَفَت** او د **تَکَبُّر** علاج هُم کیدے شي، "**مَدَني دوره**" د **مَدَني قَافِلو** تیارولو مشین دے. "**مَدَني دوره**" د دعوتِ اسلامي د مَدَني کارونو د **ترقئ** باعث جوړیږي.

د ''**مَدَني دورے**'' يو مَدَنـي سپړلے واوروئ او پابندئ سره د مَدَني دَورے کولو نِيَّت اوکړئ. چنانچه

## جُمات ته روان شو

د سندھ ښار ټنډو آدم ته د درې ورځو د پاره د عاشقانِ رَسُول يوه مَدَني قَافِله اورسيده. د مازديګر د لـمانځه نه پس [مَدَني قَافِله کښې شامِل] چاړاګان اسلامي اِسلامي ورونړه د عامو اسلامي ورونړو سره **مدني دَورے** د پاره بهر ته اُووَتل او جُمات ته نزدے يو ميدان کښې کرکټ کولو والا هلکانو خوا ته ورغلل، بيا يو عام [يعني روغ] اسلامي ورور [هغه هلکانو ته] اُووئيل چه زمونږ سره د اوريدو او وئيلو د طاقت نه **محرومه** اِسلامي ورونړه هُم دي، دوئي به تاسو ته د اشارو په ژبه کښې **د نيکۍ دعوت** وړاندې کړي، چاړا اسلامي ورور د اشارو په ژبه کښې د نيکۍ دعوت ورکړو او بيا ئې هغوئي ته دا دعوت هُم پيش کړو چه زمونږ سره جُماعت لاړ شئ، د هغے نه پس عُمومي [يعني روغ] اسلامي ورور هُم ترغيب ورکړو: **اَلْحَمْدُلِلّٰه ''مدني دَوره''** کښې ئې چه د نيکۍ دعوت واوريدو نو هغه کرکټ لوبيدو والا هلکانو سرونه ښکته کړل او مُبَلِّغ سره جُمات ته روان شو او دغسې د ''**مَدَني دَورے**'' په بَرَکت د لـمونځ ګُزارو شمير کښې اِضافه اوشوه.

نہ ''نیکی کی دعوت'' میں سُستی ہو مجھ سے

بنا شائقِ قافلہ یاالٰہی

(وسائلِ بخشش مرمم، ص۱۰۳)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** مونږه د **ذِیُ الْحِجَّه** فضیلت او د قربانۍ مسائل اوریدل. عام طور د غټ اختر په موقع غوښې ډیرې وي نو په دې وجه د سبزۍ او دالو وغیره استعمال ډیر کم شي او خلق زیات تر غوښه خوري، دغسې د خوښې د ډیر استعمال په وجه مونږه د غوښې د فائدو نه محرومه شو او د ډیرې زیاتې غوښې خوړلو د آفت په وجه بیا ډاکټرانو او حکیمانو له روان یو، لِهذا د غوښې خوړلو په مُعامَله کښې درمِیانه انداز اختیارول پکار دي او د غوښې نُقصاني اثراتو کمولو د پاره دې سره د سبزیانو اِستعمال ضرور کول پکار دي. راځئ چه د غوښې یو څو طِبِّي فائدے او د زیاتې غوښې خوړلو د نُقصاناتو په باره کښې واورو، چنانچه

## د غوښې طِبِّي فائدے

حکیمان وائي چه غوښه خوړلو سره (د بدن) اویاؤ قُوَّتونو کښې اِضافه کیږي، دې سره د سترګو نظر ښه کیږي، د بدن رنګ ورسره صفا کیږي، خیټه غټیدو ته نه پریږدي، اخلاق و عادت ورسره ښه کیږي، د ځاروي د څټ غوښه ډیره ښه وي او خوږه او زر هضمیدو والا او سپکه وي، د مخکښنۍ ښپے غوښه د ټولو نه زیاته خوږه، زر هضمیدو والا او بیمارۍ نه پاکه وي، د سخوندر غوښه بِالخصوص چه سخوندر څورب وي، ډیره زیاته مناسب، خوږه او بهتره وي، دا زر هضم کیږي او طاقتوره وي. چه کومه غوښه کښې ښوروا اوکړے شي عام طور استعمالولو د پاره هغه غوښه بهتره وي. ټولو نه بهتره غوښه د چیلي وي، د چیلي په غوښه کښې د مخکښني ورون او د ملا غوښه بهتره وي، دا زر پخیږي او زر هضمیږي، د ملا په غوښه کښې د وینه پیدا کولو اَجزا شامِل وي، غوښه بدن غټوي او طاقت زیاتوي، د غوښې فائدے د ځاروو په حساب مختلفې دي، د چیلۍ غوښه صفا وِینه پیدا کوي او ګرم مزاج د پاره فائده منده وي.

## د زیاتې غوښې خوړلو نقصانات

راځئ چه اوس د ډیرې زیاتې غوښې خوړلو ”نُقصانات“ هُم واورو:

یاد ساتئ! انساني بدن د پاره هفته کښې دوه درې ځله نه زیاته غوښه خوړل نقصاني وي، د غټې مال غوښه زیاته خوړلو سره ورځ او غاښونه خرابیږي، زیاته غوښه خوړلو سره ګُردو کښې یُورِك ایسِډ زیاتیږي، د غوښې زیات اِستعمال د ځِیګر د پاره هُم نقصاني دے، زیات مقدار کښې غوښه خوړلو سره د کینسر امکان زیاتیږي. لِـهذا د بنده خیر په دې کښې دے چه خپل صِحت غنیمت اوګڼړي او د ډیرو خوندورو او ترسګُونو طعامونو او تیلو او غوړو کښې سرو کړو خوراکونو عادت نه اخلي، د ډیرې غوښې خوړلو نقصانات یاد ساتل پکار دي او خپل نفس کنټرول کښې ساتل پکار دي، خاص طور دعوتونو وغیره کښې ډیر احتیاط پکار دے.

**اللّٰه** پاك دِ مونږ ته د خوراك سره سره هر جائز کار کښې د میانه روئ [یعني درمیانه انداز] اختیارولو توفیق رانصیب کړي.

نفس نے لذّتوں میں پھنسایا مجھ پہ لطف و کرم ہو خدایا
دل سے چاہت مٹا ما سِوا کی میرے مولیٰ تو خیرات دیدے

(وسائل بخشش مرمم، ص۱۲۶)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## مجلِس اِجتِماعی قربانی

اے عاشقانِ رَسُول! د عاشقانِ رسول مَدَنی تحریک دعوتِ اسلامی 107 شعبه جات

دي، په هغے کښې یوه شُعبه "مجلس اجتماعی قربانی" هم ده، دا مجلس د دعوتِ اسلامی زیرِ انتظام کیدونکي د اجتماعی قربانۍ د ټولو انتظاماتو خیال ساتي . دا مجلس مخکښې د اجتماعی قربانۍ بُکِنګ کوي، بیا د دې مجلس سره وابسته حَتَّی الامکان د دې شعبے ماهر او تجربه کار اسلامی ورونړه د څاروو مندۍ ته ځي او د شرعي اُصولو مطابق څاروي اخلي. د څاروو د ګیا، اوبو، د دې د خیال ساتلو، د دې د حفاظت انتظام، قصاب باندې د حلالولو او د غوښې جوړلو مزدوري طے کول، شرعي طور حلالولو نه پس د شریعت د اُصولو مطابق د غوښې حِصَّے جوړول او حِصَّه دارو ته حواله کول، او پاتې شوے رقم حِصَّه دارو ته بیرته رسَوَل، دا ټول کارونه د دې مجلِس په ذِمَّه دارۍ کښې شامِل دي.

**اللّٰہ** پاك دِ د مجلِس اجتماعي قرباني کوششونه په خپله بارګاه کښې قبول کړي.

**اٰمِین بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِین** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د قربانۍ څرمنې دعوتِ اسلامي ته ورکړئ

**اےعاشقانِ رسول!** تاسو واوریده چه د عاشقانِ رسول مَدَنی تحریک دعوتِ اسلامی د دِین د خدمت د پاره په 107 شعبه جاتو کښې مصروفِ عمل دے. یاد ساتئ په دې شُعبه جاتو سالانه کروړونه نه بلکه اربونه روپۍ خرچ کیږي، چه هغه د مُخَیِّرو حضراتو په تعاون پوره کیږي، د دې نه علاوه د دې شُعبه جاتو چلولو د پاره د غټ اختر په موقع د قربانۍ څرمنې هُم جمع کیږي. غټ اختر راروان دے. د عاشقانِ رَسُول د مدني تحریك دعوتِ اسلامي د دِین د خدمت عظیم کار ستاسو په وړاندې دے، لِهذا تاسو ټولو ته مَدَني عرض دے چه د قربانۍ د څاروو څرمنې دعوتِ اسلامي ته ورکړئ بلکه خپلو دوستانو او خپلوانو ته هُم د دعوتِ اسلامي تعارُف پیش کړئ او د هغوئي د ذِهن جوړولو کوشش

هُم اوکړئ چه هغوئي هُم د قربانئ څرمنې دعوتِ اسلامي ته ورکړي.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د پاکستان تقريباً هر ښار کښې ډيرو مقاماتو کښې د دعوتِ اسلامي زيرِ اِنتِظام ''د قربانئ د څرمنو'' سټالونه لګولے کيږي، که تاسو ته د قربانئ د څاروي څرمن رسَولو کښې څه مُشکِلات وي نو د خپلې علاقے يا د دعوتِ اسلامي نزدې ذِمّه دارانو سره فوراً رابطه اوکړئ چه د قربانئ څرمن په صحيح وخت محفوظه کړے شي او د دې صحيح اِستعمال اوشي.

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## د سيّدِي قُطبِ مدينه د سِيرت جهلکيانې

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د ذُوالْحِجَّةِالْحرام مبارکه مياشت جاري ده، په دې مبارکه مياشت کښې يو عظيم شخصيت خليفۂ اعلیٰ حضرت **قُطبِ مدينه** حضرت علّامه مَولانا ضياءالدّين احمد مَدَنی قادري رَضِوِي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيْه عُرس مبارَك دے. راځئ چه د بَرَکت حاصلولو د پاره د هغوئي د پاکِيزه سِيرت يو څو جهلکيانې واورو، چنانچه

## نوم او نَسَب او تاريخِ پيدائش!

❁ د **سَيّدي قُطبِ مدينه** نوم ضِياءُ الدين احمد دے، ❁ د **سَيِّدي قُطبِ مدينه** پيدائشي نوم'' احمد مختار''دے، ❁ د **سَيِّدي قُطبِ مدينه** نِيکه حضرت شيخ قُطبُ الدين قادري رَحْمَةُ اللهِتَعَالٰیعَلَيْه بيا وروسته د هغوئي نوم ''ضِياءُ الدِّين'' کيښودے وو، ❁ **سَيِّدي قُطبِ مدينه** د کُل په ورځ ربيعُ الاوّل 1294ھ بمطابق 1877ء مقام قصبه کلاس والا، ضلع سيالکوټ کښې پيدا شوے وو. (سيدی ضياء الدين احمد القادری، ۱/۱۶۴، ملتقطاً) ❁ **سَيِّدي قُطبِ مدينه** د اميرِ اَهلِسُنَّت حضرت علامه محمد الياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پير و مُرشِد دے، ❁ **سَيِّدي**

**قُطبِ مدینه** سره ټول دعوتِ اسلامي والا مَحبَّت و عقیدت لري، ❁ هم دا وجه ده چه دعوتِ اسلامي د **سَیِّدي قُطبِ مدینه** د وِلادت [یعني پیدائش] مکانِ عالیشان په بیعه اخستے دے او هغے کښې ئې جُمات او مَدرَسةُ الْمَدینه جوړ کړي دي. ❁ **سَیِّدي قُطبِ مدینه** اِبتِدائی تعلیم د خپل نیکه صاحب نه حاصِل کړو، **سَیِّدي قُطبِ مدینه** د سیالکوټ (پنجاب پاکستان) مشهور عالِم حضرت علّامه مَولانا محمد حُسَین نقشبندی رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ نه تعلیم حاصل کړو ❁ د هغے نه پس **سَیِّدي قُطبِ مدینه** د مشهور مُحَدِّث حضرتِ علّامه وصي احمد مُحَدِّثِ سُورتي رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ په حلقۀ درس کښې شامل شو، ❁ **سَیِّدي قُطبِ مدینه** تقریباً څلور (4) کاله پورې د هغوئي نه د تعلیم حاصِلولو سلسله جاري اوساتله (سیدی ضیاء الدین احمد القادری، ۱/۶۷ ملخصاً) هُم دې دوران کښې هغوئي د اُستادِ محترم سره اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ نه مُرِید شو او بیا اعلٰی حضرت رحمۃ اللہ تعالٰی علیہ هغوئي ته خلافت ورکړو.

## اخلاق و عادات!

❁ **سَیِّدي قُطبِ مدینه** د ډیرو بهترینو اَوصافو او اَخلاقو مالك وو، ❁ **سَیِّدي قُطبِ مدینه** به همیشه د **اللّٰه** په یاد کښې ډوب اوسیدو، ❁ **سَیِّدي قُطبِ مدینه** شب بیدار او **تَهَجُّد** ګزار وو، ❁ **سَیِّدي قُطبِ مدینه** د اِشراق، چاشت او اَوّابِینو د لمونځونو پابند وو، ❁ **سَیِّدي قُطبِ مدینه** به د کمزورۍ او بوډا والي باوجود د اسلامي میاشتو د 13،14،15 تاریخ روژے نِیولې. (سیدی ضیاء الدین احمد القادری، ۱/۴۸۶، بتغیر) ❁ **سَیِّدي قُطبِ مدینه 77** کاله په مدینۀ مُنَوَّره کښې اوسیدلو ❁ د **سَیِّدي قُطبِ مدینه** په کور کښې به هره ورځ محفلِ نعت منعقد کیدلو.

## وفات شریف او تدفین

❁ د سَیِّدي قُطبِ مدینه وصال په 4 ذُوالْحِجَّةِالْحَرام 1401 ھ بمطابق 1981-10-2 د جُمُعے په ورځ د اذان په دورانِ کښې اوشو، ❁ د سَیِّدي قُطبِ مدینه د غُسل شریف نه پس د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیْه کفن په هٰغه مبارکو اوبو لُوند کړے شو کومو اوبو باندې چه د حُضُورِ انور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قَبْر مبارك ته غُسل ورکړے شوے وو او مُختلِف تَبرُّکَات ورسره کیښودے شو، بیا کفن شریف اوتړلے شو. ❁ د سَیِّدي قُطبِ مدینه جنازه مبارَکه د مازدیګر د لـمانځه نه پس د دُرُود و سلام او قصیدهٔ بُرده شریف په آوازونو کښې اوچته کړے شوه ❁ سَیِّدي قُطبِ مدینه د هغوئي د خواهِش مُطَابِق جنّتُ البَقِیع کښې د اَهلِ بَیتِ اَطهار عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان په خوا کښې دفن کړے شو. (سیّدی قطبِ مدینه، ص۱۷)، ❁ د سَیِّدي قُطبِ مدینه د سیرت متعلق نور معلومات حاصلولو د پاره د امیرِاهلسنت رساله ”سَیِّدی قُطبِ مدینہ“ اولولئ. دا رِساله د دعوتِ اسلامي په ویب سائټ www.dawateislami.net باندې هُم لوستلے شئ، ډاؤن لوډ (Download) کولے او پرِنټ آؤټ (Print Out) ئې هم راویستلے شئ.

امیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د خپل پیر و مرشد په دَربار کښې داسې عرض کوي:

مجھ کو دیدو بقیعِ غَرقَد میں اپنے قدموں میں جا ضِیاءُ الدّین
مُصطَفٰے کا پڑوس جنّت میں مجھ کو حق سے دِلا ضِیاءُ الدّین

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په آخره کښې د سُنَّتو فضیلت او یو څو سُنَّتونه او آداب د بیانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چه زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چه زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر ج۹ ص۳۴۳)

سینہ تیری سُنَّت کا مدینہ بنے آقا جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

سِینه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدینه خوږه آقا جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د قربانۍ سُنّتونه او آداب

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** ولے چه غټ اختر نزدے دے نو راځئ چه په دې مناسبت د قُربانۍ سُنَّتونه او آداب واورو:

مخکښې دوه **فرامینِ مُصطفٰی** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم واورئ: ﴿۱﴾ قُرباني کوونکي ته د قُربانۍ د څاروي د هر ویښته په بدله کښې یوه نیکي حاصلیږي (ترمذی، ج۳ ص۱۶۲ حدیث۱۴۹۸) ﴿۲﴾ څوك چه د قُربانۍ کولو وُسعت لري بیا هُم هغه قُرباني اونکړي نو هغه دِ زمونږه عِیدګاه ته نزدے نه راځي. (سُنَنِ اِبنِ مَاجَه ج۳ ص۵۲۹ حدیث۳۱۲۳) ۞ هر بالِغ، مُقیم، مسلمان نارینه او زنانه، مالِكِ نِصاب باندې قُرباني واجِب ده. (عالمگیری ج۵، ص۲۹۲) ۞ که په چا قرباني واجِب وي او هغه وخت ورسره روپۍ نشته نو قرض دِ راواخلي یا څه څیز دِ خرڅ کړي او قُرباني دِ اوکړي. (فتاویٰ امجدیه، ۳/۳۱۵ ملخصاً) ۞ د قُربانۍ څاروے په خپل لاس ذبح کول افضل او د حلالولو په وخت د ثوابِ آخرت په نِیَّت هلته حاضر اوسیدل هُم افضل دي.

(ابلق گھوڑے سوار، ص۱۷) ۞ د نابالِغه له طرفه اګر چه واجب نه وي خو کول ئې بهتر دي (او هغه نه اجازت اخستل هُم ضروري نه دي). (ابلق گھوڑے سوار، ص۹) ۞ د بالِغ اولاد یا زَوجه له طرفه که قُرباني کول غواړي نو هغوئي نه دِ اجازت اوغواړي که هغوئي نه اجازت اغستلو نه بغیر ئې اوکړه نو د هغوئي له طرفه به واجب نه ادا کیږي. (بہارِ شریعت،۳/۳۳۴،حصہ۱۵ملخصًا) ۞ **د قُربانۍ د څاروي عُمر:** اوښ د پینځه کالو، غوا [غویا] د دوو کالو، چیلے (دې کښې بزه، ګډې، ګډه ټول شامل دي) د یو کال. که دې نه د کم عُمر وي نو قُرباني جائز نه ده، که زیات وي نو جائز بلکه غوره ده. (بهارِ شریعت،۳/۳۴۰،حصه۱۵ملخصاً) ۞ د قُربانۍ د څاروي بے عیبه کیدل ضروري دي که لږ شان عیب وي (مَثَلًا که غوږ کښې ئې څه ځائے څیرلے شوے وي یا ئې غوږ کښې سُورے وي) نو قُرباني به مکروه وي او که زیات عیب وي نو قُرباني به نه کیږي (بهارِ شریعت،۳/۳۴۰،حصه۱۵ملخصاً) ۞ قُربانۍ نه مخکښې څاروي ته ګیا او اوبه ورکړئ یعني اُوږے تږے ئې مه حلالوئ او د یو په مخکښې بل مه حلالوئ او چاړه د مخکښې نه تیره کړئ. (بهارِ شریعت،۳/۳۵۲،حصه۱۵ملخصاً) سُنَّت هُم دا راروان دي چه ذبح کوونکے او څاروے دواړه مخ په قبله وي. (فتاویٰ رضویه،۲۰/۲۱۶) ۞ بهتره دا ده چه خپله قُرباني په خپل لاس اوکړي هله چه په ښه طریقه ذبح کول [یعني حلالول] کولے شي (بهارِ شریعت،۳/۳۴۴،حصه۱۵ملخصاً) ۞ که په ښه طریقه حلالول نه شي کولے نو بل کس ته دِ د حلالولو حُکم اوکړي خو دې صورت کښې بهتر دا دي چه د قُربانۍ په وخت کښې هلته حاضر اوسي. (بهارِ شریعت،۳/۳۴۴،حصه۱۵ملخصاً) ۞ که په بل کس ئې حلال کړو او خپل لاس ئې هُم په چاړه کیښودو چه دواړو په شریکه حلال کړو نو په دواړو بِسۡمِ اللّٰه وئیل واجب دي. (بهارِ شریعت،۳/۳۵۱،حصه۱۵)

قِسماقِسم سنّتونه زده کولو د پاره د مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِیۡنَه دوه کتابونه (۱) د۳۱۲ صفحو

کتاب ”بهارِشریعت“ حصّه ۱۶ او (۲) د ۱۲۰ صفحو کتاب ”سُنّتیں اور آداب“ هدیه کړئ او اولولئ. د سُنّتو د تربِيَّت یوه غوره ذریعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافِلو کښې عاشِقانِ رسول سره د سُنّتو ډك سفر هم دے.

سیکھنے سنّتیں قافلے میں چلو لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو
ہوں گی حل مشکلیں قافلے میں چلو ختم ہوں شامتیں قافلے میں چلو

زده کړئ ښکلي سُنَّتونه قافِلو کښې لاړ شئ
اوګټئ ډیر رحمتونه قافلو کښې لاړ شئ
حل به مو شي مشکِلونه قافلو کښې لاړ شئ
شي به لرے آفتونه قافلو کښې لاړ شئ

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِ النَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائیلي دي چه څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے اور زیارت مینځنۍ شپه باندې)

دا دُرُود شريف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چه سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چه مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰی اٰلِہٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه روايت دے چه تاجدارِمدينه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي که ولاړ وو نو کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وو نو اودريدو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چه مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّدٍ

څوك چه دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[2] راځئ چه دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2... القول البديع، الباب الثانی، ص٢٧٧

حضرت اَحْمَد صاوِی رَحۡمَۃُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰی لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ په مینځ کښې کښینولو، دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُم حیران شو چه دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چه کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چه کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسې ئې لوَلي.[2] راځئ چه مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنۡزِلۡهُ الۡمَقۡعَدَ الۡمُقَرَّبَ عِنۡدَكَ یَوۡمَ الۡقِیَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چه داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

1...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانیة والخمسون، ص۱۴۹

2...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

3...الترغیب والترهیب، کتاب الذکر والدعاء، ۳۲۹/۲، حدیث:۳۰

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا نه رِوایت دے چه سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[1] راځئ چه دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو. راځئ چه مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چه حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چه دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چه شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چه مونږه هُم دا دُعا په شریکه اووائیو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

(د خُدائے حَلیم وکریم نه سِوا هیڅ څوك د عِبادت لائِق نشته، اللّٰه پاک دے چه د ووه واړو آسمانونو او د عرشِ عظِیم پروردګار دے)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث: ۱۷۳۰۵

2... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث: ۴۴۱۵